ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

گڼه ۹

نېټه: شنبه، د محرم 4 مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال






د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنگونو لویې لارې د بیارغونې او د کابل- کندهار له ارغندۍ څخه تر دوراني بازار پورې د ۲۷ کیلومتره سړک د قیر اچولو پروژې په ترتیب سره د روان کال د چنگاښ په ۲۱مه او ۲۴مه پرانیستل شوې. په همدې موخه جوړو شویو مراسمو ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پرمهال یادې پروژې مهمې وبللې او ویې ویل چې دا دواړه ستري او اقتصادي پروژې دي چې په بشپړېدو سره به یې له یوه لوري د تگ راتگ او له بل لوري د سوداگرۍ برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي. نوموړي ددې پروژو قراردادي شرکتونو ته د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ، خو له یادو شرکتونو یې وغوښتل چې خپلې چارې دې پر ټاکلې نېټه او معیاري ډول پای ته ورسوي. ددې پروژو د عملي کېدو له امله د عامو خلکو ترڅنګ د خصوصي سکټور استازي هم خوښ دي او وایي چې ددې دوو لویو لارو په رغېدو سره به د افغانستان سوداگري او د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه سویلي آسیا ته د ترانزیټ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

د آسیا په زړه کې د شپږو مهمو هېوادونو تر منځ د افغانستان موقعیت ستراتیژیک ارزښت لري. خو د دې ترڅنګ زموږ هېواد په وچه کې ایسار دی او سمندر ته لار نه لري. د همدې ستراتیژیک موقعیت په لرلو سره، افغانستان د یوه ترانزیټي او ترانسپورټي مرکز په توگه د سویلي آسیا، منځني ختیځ، مرکزي آسیا او چین بازارونه په خپلو کې سره نښلولای شي. خو اړینه داده چې له دغه طلایي فرصت نه د ګټې پورته کولو له پاره لاره هواره شي. که چېرې موږ په رښتیا غواړو چې دا طلایي چانس له لاسه ورنه کړو؛ نو اړینه داده چې د خپلو محصولاتو او تولیداتو د لېږد او بیا ترانزیټ له پاره په نړیوالو معیارونو برابر سړکونه او لویې لارې ولرو. ځکه د داسې سړکونو او لویو لارو په مټ موږ کولای شو خپل تولیدات په کمه بیه او لنډه موده کې د نورو هېوادونو مارکیټونو ته ورسوو، دغه راز خلکو ته د تگ راتگ له پاره آسانتیاوې رامنځته، سوداگرې پراخه او د ترسره کېدونکي ترانزیټ له لارې زیات عواید ترلاسه کړو.

اسلامي امارت د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته په کتو هڅه کوي چې د مرکزي او سویلي اسیا ترمنځ په ترانزیټي لارو کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته کړي په همدې موخه یې د هغو مهمو او ترانزیټي لارو جوړولو او رغولو ته مخه کړې ده چې کولای شي په عام ډول خپله سوداگري پراخه کړي او په ځانگړي ډول د ترانزیټ په برخه کې چې د عوایدو له پاره یوه ستره سرچینه بلل کېدای شي، اسانتیاوې برابرې کړي. د سالنگونو لویې لارې او د کابل- کندهار سړک رغول د همدې موخو ترلاسه کولو له پاره پیل شوي دي چې په بشپړېدو به یې له یوه لوري خپله د افغانستان شمالي او سویلي ولایتونه یو له بل سره ونښلول شي او له بل لوري به د مرکزي او سویلي آسیا هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ کچه لوړه شي چې دواړه یې د هېواد د اقتصاد پر پیاوړتیا او ودې مثبت اغیز درلودلی شي.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا یو میلیارد افغانیو په ارزښت بېلا بېلې پروژې منظورې شوې



د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه نن دوشنبه د سرطان میاشتې په ۲٦مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو. د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۱۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې یې د ۱٦ پروژو قراردادونه منظور او د پاتې ۲ وځنډول شول. منظور شوې پروژې د ملي دفاع وزارت، مالیې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، لوړو زده کړو وزارت، د افغانستان بانک، د افغانستان برېښنا شرکت، کابل ښاروالۍ او د افغانستان د گاز او نفتو دولتي شرکت اړوند وې، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا یو میلیارد افغانیو ته رسېږي. د غونډې په پای کې د منظور شوو پروژو له جملې یې د ځینو پروژو اړوندو سکټوري وزارتونو او ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې څو په ټاکلي وخت خپلې پروژې د بحث او منظورۍ لپاره ملي تدارکاتو کمېسیون ته راولېږي او په دغه برخه کې ټول تدارکاتي پړاوونه په ښه ډول طی مراحل کړي.

## در نشست نوبتی کمیسیون تدارکات ملی

# به ارزش یک میلیارد افغانی پروژه های مختلف منظور شد

### محل های تطبیق پروژه

- کابل
- تخار
- کنر
- لغمان
- نیمروز
- هرات

### تسهیلات پروژه

- تأمین آب برای زمین های زراعتی
- تسهیلات هنگام رفت و آمدشهروندان
- تأمین برق برای هموطنان
- فراهم نمودن سهولت ها جهت بودوباش برای محصلان لیلیه های دولتی
- محیطامن
- ساحهٔ سبز


### عناوین پروژه

- تکمیل کار بخش سوم بند کمال خان
- اعمار دستگاهٔ تولید برق اسعد آباد کنر
- بند های برق
- خریداری اجناس مختلف برای اصلاح شبکه های ریاست برق هرات
- بازسازی سرک سوم سیلو
- دیوارهای احاطوی
- سرسبزی
- تهیه و تدارک ۳۵ قلم مواد خوراکی پوهنتون های دولتی

### بودجهٔ مجموعی

یک میلیارد افغانی







# په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۳۷۳۱۶ سوالګر راټول شوي

د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره د هېواد پــه لویو ولایتونو لکــه، ننګرهار، کندهار، بلخ، هرات، نورســتان، پکتیــا او لوګر کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پیل کړې، چې تر دې دمه یې زرګونه سوالګر راټول کړي دي. دا پروسه چې لومړی له کابل ښــار څخه پیل شــوې وه د روان لمریز کال د سرطان میاشــتې تر ۳۱مې نېټې د کابل ښــار له بېلابېلو ســیمو ۳۷۳۱۶ سوالګر راټول شوي دي. د راټولو شوو سوالګرو له جملې ۱۳۶۸۴ ښځینه، ۵۹۸۳ نارینه او پاتې ۱۷۶۴۹ ماشومان دي چې د ماشومانو په ډله کې بیا ۷۱ بــې سرپرســته ماشــومان پېژندل شــوي. بې سرپرســته ســوالګر ماشــومان له بایومیټریک وروسته د کار او ټــولنیزو چارو وزارت له لــوري روزنتــون ته داخلېــږي او هلته ورته پر اعاشــې سربېــره د زده کړو او تعلیم زمینه هم برابرېږي. د یادونې وړ ده چې پر کابل سربېره د هېواد په لویو ښارونو کې هم پر مستحقو سوالګرو په میاشتنۍ ډول د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ پیل شــوې، چې دا پروسه به په راتلونکي کې هم دوام ولري.

# اهمیت راه اندازی نمایشگاه ها در شناخت تولیدات





نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

تردیدی نیست فعالیتی را که تولید کننده گان و فروشنده گان برای معرفی محصولات خود انجام می‌دهند و در نهایت سبب فروش می گردد، نمایش است. در دنیای کسب و کار امروزی نمایش یکی از ارکان مهم تجارتی به حساب می آید. تغییرات روزانه تکنالوژی، پیدایش محصولات جدید، تنوع و نا آشنا بودن مصرف کننده با رقابت تولیدکننده گان دلیلی واضح برای تشکیل نمایشگاه ها در هر عرصهٔ کسب و کار است.

قطع رابطه بین خریدار و فروشنده به گونه‌ای که رابطه بین مصرف کننده و تولید کننده از بین برود می‌تواند، باعث توسعه نمایشگاه ها شود. در هر کشوری افزایش عاید سرانه به همراه عواید ملی قدرت خرید را افزایش داده، سبب تغییر در تولید شده و تولیدات را نیازمند به معرفی برای شناخته شدن کرده که این امور با نمایش تولیدات در نمایشگاه ها اتفاق می‌افتد. اینجاست که اهمیت حضور کار و پیشه ها در نمایشگاه ها به وضوح قابل مشاهده می‌شود. موجودیت و حضور تولیدات و محصولات و سرمایه گذاران در نمایشگاه های داخلی و خارجی روشی ساده و محبوب برای بازاریابی محصول، خدمات و کسب و کار است. به هرحال در نوشته حاضر پیرامون اهمیت راه اندازی نمایشگاه ها، تولیدات داخلی کشور و برگزاری دومین نمایشگاهٔ ملی و بین المللی امام ابوحنیفه(رح) نکاتی را جسته جسته برای علاقمندان به رشته تحریر در آورده ام.



## اهمیت برگزاری نمایشگاه ها


مهم‌ترین رکن برگزاری نمایشگاه‌ها به ویژه نمایشگاه های تخصصی و بین‌المللی ارتباط مستقیم به توسعه صادرات دارد و در خصوص اهمیت نمایشگاه‌ها توسعه صادرات کافی است. حضور مالکان کسب و کار در نمایشگاه‌ها به خصوص نمایشگاه های تخصصی، بین‌المللی و خارجی نیز یکی و شاید بهترین ارتباطات تجارتی در دنیای امروز باشد. در هنگام برگزار شدن نمایشگاه تمام ابزارهای ارتباطات تجاری در جهت توسعه ارتباطات، بهبود بخشیدن به روابط تجارتی و توسعه کار و پیشه در کنار هم قرار می‌گیرند تا در سطح بالاتر معنای دقیق ارتباطات تجاری و شبکه سازی های اقتصادی را محقق کنند. نمایشگاه حقیقت ارتباطات تجارتی را به صورت کامل به نمایش می‌گذارد. نمایشگاه رسانه، تبلیغات، غرفه ها، شرایط رفاهی و خدماتی و در مجموع فضایی را خلق می‌کند که با معیارهای تجارتی دنیای امروز هماهنگ است؛ آنچه قابل توجه کارشناسان اقتصادی است این می باشد که معنای واقعی کلمه در هنگام برگزاری نمایشگاه ها به بهترین شکل ممکن برای فعالان اقتصادی نمایان می شود.

در جهان امروز، برگزاری هر کدام از نمایشگاه‌ها با هدف معرفی محصولات جدید، معلومات، ارایه توانمندی‌های صنایع و به نمایش گذاشتن رویکردهای نوین در مدیریت صنعت بوده که تحقق می‌یابد و پهلوی هم قرار گرفتن این موارد می‌تواند به توسعه صادرات و کشف بازارهای مورد نظر منجر گردد. بنابراین توسعه اقتصادی و تجاری در دنیای امروز بدون در نظر گرفتن صنعت نمایشگاهی و برگزاری رویدادهای بین‌المللی امکان‌پذیر نیست. با توجه به اهمیت راه اندازی نمایشگاه ها محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سخنان خود در همایش افتتاح دومین نمایشـگاۀ بین المللی امام ابوحنیفه(رح) پیرامون هدف برگزاری نمایشگاه ها گفت، که نمایشگاه ها، تولیدات صنعتی و زراعتی را دریک کشور به مردم معرفی می کند و حکومت ها نیز جهت بازاریابی در داخل و خارج از کشور دست به راه اندازی نمایشگاه ها می زنند. امارت اسلامی نیز به خاطر شناخت هرچه بیشتر تولیدات صنعتی و محصولات زراعتی در داخل و خارج از کشور سلسله براه اندازی نمایشگاه ها را آغاز نموده است، که سخنان معاون اقتصادی ریاست الوزراء دلیل بر اهمیت آشکاری گشایش نمایشگاه ها است.



## تولیدات و محصولات افغانستان

تولیدات ملی کشور که بیشتر مربوط به عرصه های زراعت و صنعت می باشد، در رشد، توسعه و ثبات اقتصادی کشور ما از جایگاه و اهمیت خاصی برخوردار می باشد. زیرا سکتور زراعت یکی از بخش های کلیدی برای رشد و توسعه اقتصادی بوده و یکی از اساسی ترین منبع عواید در کشور به حساب میرود. همچنان سکتور صنعت سهم قابل ملاحظۀ و ظرفیت‌های بسیار بالایی در اقتصاد کشور دارد، عمده ترین بخش اقتصاد برای دستیابی به رشد متناسب و ارتقای شاخص‌های اقتصادی است، زیرا این بخش در زنجیره اقتصادی کشور زمینه ساز دانسته می‌شود. رشد و رونق در این بخش سایر بخش‌ها را توسعه می بخشد. بناً تولیدات عمدۀ ملی و صادراتی افغانستان در بخش زراعتی که در بازارهای داخلی و بین المللی از شهرت ویژه ای برخوردار است و در رشد و توسعه اقتصادی ما دارای ارزش زیادی است، عبارت اند از گندم به خصوص گندم للمی که سهم بارز در تولید غله دارد و از جملۀ محصولات عمده و اساسی می باشد که بیشترین مصارف غلات را در افغانستان تشکیل می‌دهد. به همین شکل میوه های تازه به شمول خربوزه، تربوز، زردآلو، انار، سیب و انگور برای مصارف داخلی و هم برای صادرات تولید می‌گردد. صدور میوه های خشک و مغزیات مخصوصاً زردآلو ، بادام ، پسته، جلغوزه هنوز هم یکی از منابع مهم صادراتی افغانستان می‌باشد. همچنان زیتون، هینگ، زعفران، از جمله اقلامی تولیدی ملی اند که در بازار های خارجی از شهرت خوبی برخوردار اند. روی همرفته لبنیات هم یکی از عمده ترین تولیداتی کشور ما بوده که در داخل کشور از آن استفاده به عمل میآید. تولیدات داخلی کشور ما در سکتور صنعت شامل مواد ساختمانی، مواد غذایی، صنایع پلاستیک، لبنیات و نوشیدنی‌ها است. بر اساس آمار های ارایه شده، تولیدات فابریکه های داخلی در بخش تولید آب معدنی، صنایع پلاستیک و برخی اقلام ساختمانی به حدی رسیده که این کشور را از واردات اجناس مشابه خارجی بی‌نیاز کرده است. صنایع دستی افغانستان که شامل بربافنده گی، نساجی، معماری، نقاشی، کنده‌کاری، حکاکی، نجاری، فلزکاری، سرامیک سازی، گنبدسازی، شیشه سازی، بوت دوزی، فلزکاری، عطاری، ادویه سازی و غیره می‌باشد. بافت و تولید قالین، گلیم کشور ما در جهان شهرت بی نظیری دارد،که این همه و همه در رشد اقتصادی کشور حایز اهمیت بوده و می توان به اتکای آن به رشد و توسعه اقتصادی کشور امیدوار بود.





## نگاهی بر افتتاح دومین نمایشگاه ملی و بین المللی امام ابوحنیفه(رح)

با تأمین امنیت سرتاسری و بنیاد گذاری یک نظام واحد مرکزی از سوی امارت اسلامی افغانستان در بخش های مختلف به ویژه بخش های اقتصادی زمینه فراهم گردیده که این مسئله از جملهٔ تغییرات مهم اقتصادی به حساب میرود. ابتکار در این بخش می تواند نقش سازندهٔ در ثبات اقتصادی افغانستان داشته باشد. چنانچه امارت اسلامی ضمن مساعد نمودن امنیت سرتاسری که یکی از عمده ترین مسایل برای فراهم سازی زمینه کار در همه ابعاد است، جهت حمایت از تولیدات ملی کشور دست به راه اندازی نمایشگاه ها در سطح ملی و بین المللی زده است تا تولیدات و محصولات کشور ما هم در داخل و نیز در خارج از کشور معرفی گردد و از این رهگذر مارکیت خوبی جهت فروش تولیدات داخلی ما به سطح ملی و فراملی مساعد گردد که در پرتو آن خواهی نخواهی زمینه برای رشد و توسعه اقتصادی فراهم می گردد. به همین هدفمندی امارت اسلامی با حاکمیت مجدد به ده ها نمایشگاهٔ محصولات زراعتی، صنعتی و صنایع دستی کشور را در داخل و خارج از کشور به هدف شناخت تولیدات افغانستان، بازاریابی و حمایت از سرمایه گذاری راه اندازی نموده که این مسئله موجب افزایش صادرات محصولات افغانی و فروش آن در داخل کشور گردیده که در نهایت رشد و توسعه اقتصادی را به دنبال داشته است.

اینک به سلسله برگزاری نمایشگاه ها، دومین نمایشگاهٔ ملی و بین المللی امام ابوحنیفه (رح) به حمایت امارت اسلامی از طرف اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان به هدف بازاریابی محصولات و تولیدات افغانی، حمایت از سرمایه گذاری ملی، فراهم نمودن روابط میان تاجران ملی و بین المللی، معرفی تولیدات و محصولات داخلی برای شهروندان به تاریخ ۲۵سرطان سال روان راه اندازی گردید.

در این نمایشگاه علاوه از صنعتکاران داخلی، صنعتکاران ایران، ترکمنستان، ترکیه، پاکستان و شماری از کشور های دیگر تولیدات خویش را به نمایش گذشته اند. در نمایشگاهٔ نامبرده محصولات و تولیدات ملی مختلف زراعتی، ساختمانی، صنایع دستی، وسایل طبی، ادویه وغیره در صدها غرفه به نمایش گذاشته شد. در مراسم گشایش این نمایشگاه محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سخنان خود پیرامون هدف برگزاری نمایشگاه ها گفت، که نمایشگاه ها، تولیدات صنعتی و زراعتی را در یک کشور به مردم معرفی می کند و حکومت ها نیز جهت بازاریابی در داخل و خارج از کشور دست به راه اندازی نمایشگاه ها می زنند. امارت اسلامی نیز به خاطر شناخت هرچه بیشتر تولیدات صنعتی و محصولات زراعتی در داخل و خارج از کشور سلسله براه اندازی نمایشگاه ها را آغاز نموده است.

همچنان محترم ملا صاحب با در نظرداشت اهمیت نمایشگاه ها گفت، که بعد از رویکار آمدن امارت اسلامی این بزرگترن نمایشگاه است، که محصولات گونا گون صنعتی و زراعتی را در اضافه تر ۶۰۰ غرفه به نمایش گذاشته است. محترم ملا صاحب افزود، در این نمایشگاه سازمان شانگهای نیز در خواست اشتراک نموده که امارت اسلامی این اقدام سازمان یاد شده را تحسین و استقبال می کند.

موصوف علاوه نمود که با حاکمیت امارت اسلامی با تأمین امنیت سراسری زمینه خوبی برای سرمایه گذاری و استخراج معادن نسبت به هر وقت دیگر مساعد گردیده که ناشی از آن افغانستان تازه وارد مرحلهٔ احیایی مجدد گردیده است. این سخنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء نمایانگر آن است که امارت اسلامی تعهد جدی جهت پیشرفت و انکشاف در همه ابعاد به ویژه عرصه اقتصادی داشته و با سعی و تلاش خستگی ناپذیر به دنبال سیر سریع رشد و






توسعه اقتصادی کشور می باشد. همچنان سخنان موصوف به وضوح میرساند که برای رشد اقتصادی افغانستان باید بر محصولات و صنایع داخلی تکیه داشت. زیرا رشد تولیدات داخلی و محصولات ملی زمانی در یک کشور بلند رفته می تواند و به رشد می رسد که نه تنها توسط قوانین و مقررات داخلی مورد حمایت و تشویق قرار بگیرند، بلکه از لحاظ مصرفی و فرهنگی در جامعه تحت حمایت واقع شوند. که در این خصوص امارت اسلامی به کاهش مالیه دهی بر اصناف و سرمایه گذاران مبادرت ورزیده همچنان فضای امن و مصؤن برای سرمایه گذاری داخلی و خارجی را فراهم نموده و با راه اندازی نمایشگاه ها جهت معرفی تولیدات و فرهنگ افغانی، همچنان بازاریابی محصولات کشور دست به راه اندازی نمایشگاه ها زده تا از این طریق تولیدات ملی ما در سطح ملی و بین المللی معرفی گردد و از این مجرا در صادرات افزایش به عمل آید، زمینه کار بیشتر به مردم فراهم گردد، اسعار خارجی بیشتر وارد کشور شود و در نهایت سبب رشد و توسعه اقتصادی گردد.

## نتیجه گیری

از مفاهیم که در بالا گفته شد چنین برمیآید که نمایشگاه بیشترین کاربرد را در توسعه بازار اقتصادی دارد زیرا بیشتر سرمایه گذاران و صاحبان کارو بار برای تبلیغ و فروش محصولات خود در نمایشگاه حضور پیدا می کنند. حضور آنها در نمایشگاه ها به توسعه روابط با مشتری، جستجو شریک و کارمند و در نهایت به مطرح شدن کمک می‌کند. مهم‌ترین رکن برگزاری نمایشگاه‌های تخصصی و بین‌المللی مرتبط با توسعه صادرات است،که با به راه اندازی نمایشگاه ها تولیدات و محصولات برای سرمایه گذاران، صاحبان کار و بار و مردم معرفی گردیده و سبب بازاریابی و فروش بیشتر اقلام متذکره می گردد. این امر باعث می شود تا صادرات افزایش یابد، اسعار هنگفت خارجی وارد کشور گردد، محصولات شهرت جهانی حاصل نماید، موازی به آن زمینه اشتغال بیشتر فراهم شود، عاید سرانه بلند برود و در نهایت منجر به رشد و توسعه اقتصادی گردد، که امارت اسلامی با در نظر داشت این حقیقت سلسه برگزاری نمایشگاه ها را در سطح ملی و بین المللی آغاز نموده است تا از این رهگذر نیز خدمات شایانی را به نفع کشور و مردم خود انجام دهد.



# د کابل - کندهار لویې لارې د بیارغونې اړتیا

**لیکوال: امان‌الله حنیفي**

د پیاوړي اقتصاد درلودو لپاره پر نورو سکتورونو سربېره یو هم د سوداګرۍ او ترانزیټ سکتور دی. د سوداګرۍ او ترانزیټ سکتور د ودې او وسعت لپاره مهمه ده چې یو هېواد د ترانسپورټ ټولې شبکې: سمندري، هوایي، ځمکنۍ او رېل پټلۍ په ښه ډول ورغوي او په دغه برخه کې له ننني عصري سیستم استفاده وکړي. افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو دی چې مستقیم بهر ته لاسرسی نه لري او د هر ډول ترانسپورټ پر مهال یوازې له هوایي، ځمکنۍ او رېل پټلۍ شبکو څخه استفاده کوي.

خو هغسې چې د سوداګرۍ او ترانزیټ د ودې او پرمختګ لپاره پیاوړی ترانسپورټي سیستم ضرور دی، په هغه بڼه د افغانستان هوایي، ځمکنۍ او د رېل پټلۍ ترانسپورټي سیستم نه دی جوړ شوی.

افغانستان د هوایي او رېل پټلۍ ترانسپورټي شبکو په پرتله له ځمکنۍ ترانسپورټ څخه ډېره استفاده کوي، چې په دې برخه کې یې ټول تمرکز او تکیه پر سړکونو ده. سره له دې چې د سړکونو جوړولو اهمیت د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ په وده او پراختیا کې خورا ارزښتناک دی، خو څومره چې لازمه ده، تر اوسه هومره پام نه دی ورته شوی. د نړیوالو راپورونو له مخې، د افغانستان د لویو لارو ډېرې سلنه د نه پاملرنې له کبله ویجاړ شوي او بیارغونه غواړي او که جدي پاملرنه او بیارغونه یې ونشي، پاتې برخې یې هم له منځه ځي. طبیعي پېښې، له اندازې زیات بار، د باروړونکو موټرو ګړندي تګ، زیاته ګڼه ګوڼه او لارو په جوړولو کې د ټیټ کیفیت لرونکو موادو کارول د لویو لارو د ویجاړېدو اصلي لاملونه دي.

افغانستان د خپل جیوپولیټیک جغرافیوي موقعیت له مخې د سیمې هېوادونو ترمنځ د نښلوونکي پل حیثیت لري. نو که چېرې د ځمکنۍ ترانسپورټ په برخه کې چې ټوله تکیه یې پر سړک ده، د یو منظم سیستم پر بنسټ پانګونه وشي، په کم وخت کې به د سیمه ییز اتصال په څلور لارې بدل شي او په اقتصادي وده کې به مهم رول ولوبوي. دا چې ځمکنۍ ترانسپورټ عموماً د سړکونو له لارې ترسره کېږي، افغانستان هم د زرهاوو کیلومترو په اوږدوالي سیمه ییز، ولایتي او محلي سړکونه لري چې کولی شي د هېواد ښارونه او بېلابېلې سیمې له یو بل سره ونښلوي.

که د سړکونو جوړولو او بیارغونې له لارې د هېواد ټولې سیمې له یو او بل سره ونښلول شي، پرته له شکه چې په وخت او ښه کیفیت سره به په لرې پرتو سیمو کې مېشتو هېوادوالو ته د ژوند هر ډول خدمات ورسېږي. د ژوند په بېلابېلو برخو کې د خدماتو وړاندې کولو ترڅنګ به سوداګرۍ د پام وړ وده وکړي. د هېواد په لرې پرتو سیمو کې به میکانیزه کرنه دود شي، بزګرانو ته به اصلاح شوي تخمونه ورسېږي او د بزګرانو له لوري راټول شوي

کرنيـز محصولات به په خپل وخــت تر مارکېټ پورې ورســېږي او د خرابېــدو مخنيوی به يې وشي. د کرنيزو محصولاتــو لپاره به په کور دننه او بهر کــې بازارموندنه وشي او په دې سره به د افغانســتان په صادراتو کې د پــام وړ زياتوالی راشي. هرڅومره چې يو هېواد د مصرفي هغه پر ځای پـــر توليدي بـــدل شي، هومـــره يې ملي اقتصاد ورسره وده کـــوي او وګړي يې اقتصادي او سياسي خپلواکي ترلاسه کوي.

په افغانســتان کـــې تر ټولو ډېر لېــرد رالېږد سړکونو پر مټ ترسره کيږي، نو پر همدې اساس د سړکونو جوړول او بيارغونه د هېواد په اقتصاد او سياسي پرمختګ کې ســتره ونډه لري او په دې سره د يوې سيمې سوداګريز او کرنيز توکي بلې ســيمې ته په ښــه او اســانه ډول لېږدول کېږي.

موږ مخکې يادونه وکړه چې افغانستان د سيمې او په ځانګړي ډول د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د نښــلوونکي پــل حيثيت لـــري او کولای شي د ترانزيـټ پــه برخه کې لــه خپــل جغرافيوي موقعيت څخه په ښې استفادې سره يې اقتصاد د پام وړ وده وکړي. څو ورځې وړاندې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابو حنيفه (رح) د دوهم ملي او نړيــوال نندارتون په پرانيســت‌غونډه کې د منځنۍ او سويلي آســيا هېوادونو ته ډاډ ورکړ، چې افغانســتان د ترانزيټ لپاره تر ټولو امن لار ده او اســلامي امارت په دغــه برخه کې د نورو اســانتياوو برابرولو ترڅنګ د لويو لارو بيارغونه هم پيل کړې ده.

اقتصــادي خودکفايي ته د رسـېدو او په دغه برخــه کـــې د يو پيــاوړي او عــصري څمکنۍ ترانسپورتي سيستم او په ځانګړي ډل د معياري سړکونو درلودو اړتيا د افغانستان اسلامي امارت درک کړې او د پـــوره کېدو لپاره يې عملاً هڅې پيل کړي، چې ښــه بېلګه يې د کابل- کندهار لويــې لارې د بيارغونې چارو پرانيســته ده. د کابــل – کندهار لويې لارې لــه ارغندی ځلور لارې د ميــدان وردګو تـــر دوراني بازار پورې د اســاسي بيارغونې او قير اچونې چارو پروژه څو ورځـــې مخکــې د رياســت‌الوزراء اقتصـــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانيستل شوه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال ووېل چې د کابل- کندهار لويه لار د افغانســتان د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې ځانګړې ارزښــت لري، چې په بيارغېدو سره به پر دغه لار شــته ستونزې حل او هېوادوالو ته به اسانتياوې رامنځته شي.

د کابل- کندهار لويه لار د افغانســتان اسلامي امــارت په مــالي ملاتړ د خصوصي ســکتور له لـــوري په ۷ برخـــو کې په اســـاسي ډول رغول کېږي.

د ارغنـــدی له ځلــور لارې د ميــدان وردګو تر دوراني بازار پـــورې د قير اچونې چارو پروژې د پرانيستو مراســـمو ته د ټولګټو وزارت سرپرست محــترم ملا محمد عيســی ثـــاني ووېل، چې د کابــل- کندهــار لويې لارې پـــه ۷ واړو برخو د خصوصي سکټور له لوري عملاً کار پيل شوی او ټاکل شـــوې چې د يو کال پـــه موده کې به يې چارې بشـــپړې او ګټې اخيســتنې ته وسپارل شي.

کابــل – کندهــار يوه مهمــه ســوداګريزه او ترانزيتي لار ده، چې له مرکز کابل او شــمالي ولايتونـــو سره د ګـــنو جنـــوبي او جنوب غربي ولايتونو پر نښـــلون سربېره له ګاونډيو هيوادونو سره د ســـوداګريزو توکو په لېږد رالېږد کې هم اغېزمن ترانزيتي او اقتصادي رول لوبوي. د دې لارې په بيارغېدو سره به د هېواد د شمال، مرکز او جنوب ترمنځ سوداګري وده وکړي، سوداګريز توکي به په خپــل وخـت او ټيــټ ترانسپورتي لګښت بازار ته ورسېږي چې دا چاره د هېواد پر ملـي اقتصاد مستقيم او ژور اغېز لـري.

د کابل- کندهار لويې لارې په بيارغېدو سره به د افغانســتان له خاورې د ترانزيټ په کچه کې هـــم د پـــام وړ زياتوالـــی راشي، ځکه د يو معياري ســـړک په درلـــودو سره به بهرني ســـوداګر زړه ښه کړي چې خپل توکي د افغانســتان له لارې نـــورو هېوادونو ته ورسوي چې په دې سره به افغان دولت ته د عوايـــدو يوه لويـــه سرچينه پيدا شي. څومره چې د افغانســـتان عوايد ډېرېږي، هومـــره ورسره ملي اقتصاد وده کوي. د افغانستان له خاورې او په ځانګـــړي ډول د کابل- کندهار لويې لارې په واســـطه د کېدونکي ترانزيټ له امله به د افغانستان او ګاونډيـــو هېوادونـــو ســـياسي، ســـوداګريزې او ترانزيتي اړيکې هم پراختيا ومومي. څومره چې د افغانســتان ســـوداګريزې او ترانزيتي اړيکې لـــه ګاونډيو او ســـيمې هېوادونو سره زياتې او پياوړې وي، په هماغه کچه به يې ملي اقتصاد هم ورسره وده وکړي.

د کابـــل- کنـدهـــار لويه لار ٤٨٠ کيلومـــتره اوږدوالی، ۷ متره ســـور، ٤٦ لوی او کوچني پلونه او ١٧١٦ پلچکونـــه لري چې په ورځني ډول زرګونه مسافر وړونکي او بـــار وړونکـــي موټرونه پرې ګـــټ راګـــټ کوي.

